مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۰۱/۲۱

# حساب کېږي

هر څه به مهم وي خو پيسو باندې حساب کېږي
دلته د عقلونو پر ځای شتو باندې حساب کېږي

ښه د سرو ګنبدو نـه د عشق د ايرو ځلی وي
چېرته چې د مينې لېونو باندې حساب کېږي

خدای ته د حساب د ورکولو هېڅوک ژمن نه وي
ښه ښکلي موټر؛ ښکليو جامو باندې حساب کېږي

هر چا نه دننه تماشې دي د خپل ذات ورکې
اوس خو د دنيا په تماشو باندې حساب کېږي

ټـول دلتـه رادرومې؛ د بـاور پر قبر ولېکئ
هلته چې جونګړو او بنګلو باندې حساب کېږي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ